د افغانستان اسلامي امارت

# د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

## د دفتر عمومي رياست

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د دفتر عمومي رياست
د صادرې مهر: ۱۳۸۷ نېټه: ۱۴۴۷/۳/۲۹

گڼه:

نېټه: / /۱۴۰۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

**د ماليې محترم وزارت ته!**

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

**موضوع: عارض شرکتونو د يو عصري سوداگريز مارکېټ د جوړولو په موخه د ځمکې د قرارداد غوښتنه کړې**

د عثمان ذوالنورين ساختماني، سړک جوړوني او لوژستيکي او همدارنگه د وهاب اماني د لوژستيکي خدمتونو شرکتونو د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت ته په گډه عرضپاڼه کې ليکلي چې په ۱۴۰۰/۱۱/۶ نېټه يې يوه گډه عرضپاڼه د رياست الوزراء عالي مقام ته هم کړې وه چې پکې د ماليې محترم وزارت او د پښتني محترم بانک پر (۱۱,۳۵) بسوې ځمکه چې د کابل ښار د لومړۍ ناحيې په گرډې ځلورلارې کې موقعيت لري، د يو عصري سوداگريز مارکېټ د جوړېدو غوښتنه کړې ده. ياده عرضپاڼه د رياست الوزراء عالي مقام د دفتر د عمومي رياست له لورې د پښتني محترم بانک ته مکتوب شوې چې پکې د اصولو او موجودو قوانينو په رڼا کې يې په اړه د اجرااتو غوښتنه شوې ده. عارض ادعا لري چې د درې نيمو کلونو په تېرېدو سره يې د استملاک او سکيچ کارونه په اړوند ادارو کې پرمخ وړي، خو تر دې دمه يې کومه پايله نه ده تر لاسه کړې، اوس يې د خصوصي سکټور د ملاتړ، وخت او مالي لگښتونو په نظر کې نيولو سره د نوموړې ځمکې د قرارداد غوښتنه کړې ده.

په دې اساس يې عرضپاڼه له دې مکتوب سره مل ستاسې محترم وزارت / بانک ته در واستول شوه، هيله ده چې ورسره اصولي همکاري وشي. والسلام

**درنښت**

**مولوي عبدالله عزام**

**د رياست الوزراء د اقتصادي معاونيت**

**د مقام د دفتر عمومي رئيس**

**کاپي:**

د پښتني محترم بانک

Address: Sedarat Marmarin Palace - Malik Asghar Square - Kabul - Afghanistan افغانستان - کابل - د ملک اصغر ځلور لارې - صدارت - مرمرينه ماڼۍ :پته

Contact number: 0202105504 د اړيکې شمېره: 0202105504

Sharifullah